afghanistan justice archive

DEC3.05.19.2025-B

Supreme Court ستره محکمه
21 May 2025 ·

په لوګر ولایت کې درېيو کسانو ته تعز/يري سزا ورکړل شوه

د لوګر ولایت د محمدآغې ولسوالۍ ابتدائيه محکمې د پرېکړې له مخې، د يوې ښځې په ګډون دوو کسانو ته د نامشروع اړيکو په جرم او يو کس ته د زنا په تور؛ په ۲۱/ ۱۱/ ۱۴۴۶هـ ق نېټه تعزيري سزا ورکړل شوه.
ابتدائيه محکمې دوه مجرمين پر ۳۰ـ ۳۰ دُ/رو او متهم پر ۳۹ دُ/رو تعزيري سزا محکوم کړي وو؛ چې ياده پرېکړه د سترې محکمې د عالي مقام له تائيد وروسته تطبيق شوه.
په دې موخه جوړه شوې غونډه کې د يادې محکمې رئيس مولوي روح الله (غالب)، قضائي غړو او کارکوونکو، ولسوال او مرستيال يې، امنيه قوماندان، د استخباراتو غړو، د ولسوالۍ کارکوونکو او عامو هېوادوالو ګډون درلود.
غونډه کې د ابتدائيه محکمې رئيس وويل، حد/ود او تعز/يرات د الله (جل‌جلاله) لخوا د ټولنې د اصلاح، د فحشا او فساد د مخنيوي او د عبرت لپاره ټاکل شوي الهي حکمونه دي، چې له امله يې يوازې مجرم ته سزا نه ورکول کېږي؛ بلکې نور خلک هم ورڅخه عبرت اخلي.
همدا‌راز د يادې ولسوالۍ ولسوال له خلکو څخه جدي غوښتنه وکړه، چې د خپلو اولادونو سالمې روزنې، اخلاقو او تربيې ته پوره پاملرنه وکړي، ترڅو خدای مه کړه د دنيا او اخرت له بد انجام سره مخ نشي.

